پۀ5 نومبر، کال 2026ء (بمطابق: 24 جمادي الاول، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه واقعه

(د نېکۍ د دعوت جذبه او د دې د فضيلتونو او فائدو بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړی...

- کمالي سوداګر، بے مثاله کارنامه
- د مُبَلِّغ مدد کولے شي
- د نېکۍ د دعوت پۀ فضيلتونو باندې 2حديثونه
- د نېکۍ د دعوت نۀ ورکولو نقصانونه

پېښکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې په تاسو کښې څوک د اودس نه فارغ شي نو اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ دې لولي بيا دې په ما باندې درود شريف لولي، کله چې هغه دا ولولي د هغه د پاره به د رحمت دروازې پرانستلے کېږي-[1]

درد واَلم کے سر پہ ہوں بادل، درود پڑھ
ان کی ہی بارگاہِ مُنوّر میں صبح و شام

مل جائے گا سکوں دلِ بیکل! درود پڑھ
کونین میں ہیں سب سے جو افضل، درود پڑھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان اوربدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے-[2]

اے د خورِ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوربدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به

---

[1] ... سنن كبرىٰ للبيهقي، باب تسمية على الوضوء، جلد:1، صفحه:141، حديث:198۔

[2] ... بخاري، كتاب بدء الوحي، صفحه:65، حديث:1۔

ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښېنم ❁ نبه پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ مخکښينو اُمتونو کښې ډېر د اوچتې مرتبې هستې تېره شوې ده- ځينو علمائے کرامو فرمائيلي دي چې هغوئ نبي وو-[1] ځينو فرمائيلي دي: نبي نۀ وو بلکې د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِالسَّلَام اُمتي وو- د هغوئ د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِالسَّلَام د حَوَّاريانو (ملګرو) صحبت نصيب شوے وو- [2]

نن به مونږ د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه واقعه اورو او د هغې نه د سبق زده کولو سعادت به حاصلوو-

کمالي سوداګر، بے مثاله کارنامه

پۀ کتابونو کښې ليکلے شوي دي چې حضرت جَرجِيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به تجارت (Trading) کولو او انداز مبارک يې ډېر نا اشنا وو ❁ پۀ تجارت کښې به يې چې څومره ګټه کوله، د هغې نه به يې د خپل ضرورت مطابق اينبودله او نوره به يې ټوله د الله پاک پۀ لار کښې ورکوله ❁ ډېر ځل به يې داسې هم کول چې ټول مال به يې د الله پاک پۀ لاره کښې صدقه کولو او پخپله به خالي لاسونه پاتې شو- بيا به چې يې تجارت کولو نو الله پاک به پکښې برکت اچولو، هغوئ به بيا مالداره کېدلو- حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د ګټې شوق نۀ وو، **صرف دې د پاره به يې تجارت کولو چې وه يې ګټې او صدقه او خيرات يې کړي-**[3]

---

[1]... البدء و التاريخ، جلد:3، صفحه:127۔

[2]... تاريخ طبرى، ذكر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:382 خلاصةً۔

[3]... تاريخ طبرى، ذكر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:382 خلاصةً۔

د تجارت څۀ نيتونه

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې ګټې ټول خلق ❁ څوک تجارت کوي ❁ څوک محنت مزدوري کوي ❁ څوک نوکري کوي- ټول د خپل خپل ضرورت مطابق د خپلو خپلو صلاحيتونو مطابق ګټي خو د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه انداز مبارک ته وګورئ چې څومره د کمال وو- د هغوئ د مال جمع کولو بالکل حِرص نۀ وو- ګټه به يې دې د پاره کوله چې د غريبانو، فقيرانو او محتاجو مدد اوکړے شي-

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه هم توفيق نصيب کړي- کاش چې مونږ هم د ښه ښه نيتونو سره د ګټلو عادت جوړ کړو، ظاهره ده چې مېلاؤېږي هم هٰغه همره څومره چې پۀ نصيب کښې ليکلے شوې وي، که نيت ښه اوکړې نو ثواب به هم مېلاؤېږي، مثلاً؛ ❁ د مور او پلار د خِدمت د پاره يې ګټم ❁ د کور وداني او د بچو د حقونو پوره کولو د پاره يې ګټم ❁ د صدقې او خېرات کولو ❁ د غريبانو، محتاجو پۀ کار راتللو ❁ د دِين د مالي خِدمت کولو د پاره يې ګټم ❁ ځکه يې ګټم چې **د مالي عبادتونو** کولو سعادت حاصل کړے شم- دا او د دې پۀ شان نور ښه ښه نيتونه اوکړئ! اِنْشَآءَاللهُ الْكَرِيم! پۀ دُکان کښې کېناستل، محنت مزدوري کول، پۀ دفتر کښې جائز کار کول به مو هم عبادت جوړ شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

تجارت يې پرېښودو او مُبَلِّغ جوړ شو

روايت دے چې يو ځل حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه (د اوسني عراق مشهور ښار) **مُوصَل** ته لاړو- د هغه ځائے بادشاه ډېر ظالم او مُشرک وو- هغوئ چې کله د بادشاه دربار ته لاړو، وه يې کتل چې بادشاه پۀ تخت ناست دے، ګېر چاپېره ترې وزيران او صلاح کاران موجود دي، اَفَلُّون (Afallun) نومې يو بُت هم پۀ دربار کښې ايښودے شوے دے- پۀ

خوا کښې ورسره وور بلهږي- خلق به د هٰغه بُت مخې ته راوستلے کېدل، چا به چې هغه ته سجده کوله نو هغه به يې ازادولو، چا به چې سجده نۀ کوله نو هغه به يې وور ته غورځولو او سېزلو به يې -

دا حالات يې چې وليدل نو حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پخه اِراده اوکړه چې **د اوس نه تجارت ختم، بس اوس د دې بادشاه او د دۀ رعايې ته د نېکۍ دعوت ورکول دي-** نو کله چې بادشاه ته مخامخ شو، نو هغوئي ډېر پۀ دليرۍ[مړانه] د نېکۍ دعوت ورکړو او وه يې وئيل: اے بادشاه---!! بے شکه چې تۀ يو اِنسان يې، تۀ پخپله د خپل ذات مالِک هم نۀ يې، بے شکه ستا يو رَبّ دے، هم هغه پۀ تا باندې پوره قابو لري- هغه تۀ پېدا کړې، هم هغه تا ته رزق درعطا کوي، هغه تا له ژوند درکړو، هم هغه به تا له مرګ راولې ، اے بادشاه---!! تا مخلوق ګمراه کړو، تۀ پخپله هم پۀ شِرک کښې اخته يې او نور هم پکښې اخته کوې-

د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بالکل واضحه او ډېرې اعلیٰ خبرې چې يې واورېدلې نو بيا هم د بادشاه عقل ځائے له رانغلو، هٰغه بد بخته اُلټا سرکشي شروع کړه او وه يې وئيل: اے جَرجِيسه! اَفَلَّون ته سجده اوکړه! يا د وور عذاب زغملو ته تيار شه!

حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د شِرک نه بچ او پۀ خپل اِيمان باندې ثابت قدم پاتې شو، بيا هغوئي يواځې يو طرف ته وو او بل طرفته بادشاه وو، د هغه فوځ، د هغه ټول جاه او جلال وو- نو پۀ دې ساعت کښې د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اِمتحانونه شروع شول- اوس لږ وګورئ چې د الله پاک دې نېک بنده، کمالي مُبَلِّغ څنګه څنګه تکليفونه برداشت کړل:

د بادشاه پۀ حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې ظُلم

❁ **بادشاه حُکم اوکړو:** د جَرجِيس وجود دې د اوسپنې پۀ ګمنځو وڅيرلے شي، تر څو پورې چې د هغوئي څرمن او غوښه جدانۀ شي، د هغې پورې دې دا سزا ورکړے کيږي- د بادشاه پۀ حُکم باندې فوراً عمل وشو، د اوسپنې د ګمنځو سره د هغوئي پاک وجود

وخيرلے شو، تر دې پورې چې غوښه يې واغوښتله او هډوکي يې ښکاره شول- ټول وجود يې چې وخيرلے شو نو د هغوئ پۀ زخمونو باندې سرکه واچولے شوه-

اَللهُ اَكْبَر! تاسو لږ سوچ اوکړئ چې دا څومره سخته سزا ده، د يو ژوندي اِنسان وجود د اوسپنې پۀ ګمنځو خيرلے کېږي، د زخمونو د پاسه پرې سرکه اچولے کېږي، څومره سخت تکليف به وي ورته خو د الله پاک قُدرت ته وګورئ! غوښه يې واغوښتله، رګونه يې کټ شول خو د دې باوجود هم حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفات نۀ شو-

بادشاه چې کله دا وليدل چې هغوئ نۀ وفات کېږي، نو هغه سزا بدله کړه- وه يې وئيل: د اوسپنې مېخونه پۀ وور کښې ښه ګرم کړئ او د جَرجِيس پۀ سر يې ټک وهئ- پۀ دې باندې هم سمدستي عمل اوکړے شو- د الله پاک قُدرت وو او د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه کرامت وو چې د دومره ډېر سخت تکليف باوجود هم هغوئ وفات نۀ شو-

بيا بادشاه د اوسپنې يو غټ لوښے راوغوښتلو، هغه يې پۀ وور باندې کښودو، کله چې اوسپنه ښه ګرمه شوه نو حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ هغې کښې دننه واچولے شو او د بره نه يې پرې بند کړو-

الله! الله---!! څومره سخت تکليف دے- دلته چې پۀ اَووَن (Oven) کښې دننه د دوه درېو منټو د پاره څۀ څيز کېښودے شي نو پخيږي- تاسو اندازه ولګوئ چې د اوسپنې پۀ سخت ګرم لوښي کښې دننه به حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته څومره سخت تکليف وو- خو قربان شم! هٰغه رَبِّ کريم کوم چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِالسَّلَام د پاره د نمرود وور ګل ګلزار کړے وو، هٰغه رَبِّ رحمان د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه هم مدد اوکړو، د اوسپنې سور شوي لوښي هغوئ ته تکليف وه نۀ رسولو-

د دومره تکليف ورکولو نه پس بادشاه حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه راوبللو او پوښتنه يې اوکړه: **تاسو له څومره ډېر تکليفونه درکړے شول، آيا تاسو ته لږ شان درد هم محسوس نۀ**

شو؟ هغوئي ډېر پۀ اِطمينان سره وفرمائيل: ما خو تا ته وئيلي دي چې زما رَبّ يو دے، هغه د ځان نه هم زيات نزدې دے، هم هٰغه رَبِّ رحمان زۀ بچ کړم او د صبر توفيق يې را عطا کړلو۔ (1)

کیوں کرنہ میرے کام بنیں غیب سے حَسَن | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا (2)

❁ **د دې نه پس بادشاه حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ قبد خانه کښې بند کړو** او بند يې هم داسې کړو چې هغوئي يې پرمخې خملولو او پۀ لاسونو او پۀ ښپو باندې يې ورله مېخونه ټک وهل، پۀ ملا مبارکه باندې يې ورله دروند کاڼے کېښودو۔

فرښتې د قبد نه ازاد کړو

هغوئي پۀ دې قبد کښې وو، چې شپه شوه نو يوه فرښته د هغوئي خوا له راغله، فرښتې هغوئي د قبد نه ازاد کړو۔ هغوئي د ازادېدو نه پس بيا بادشاه او د هغه رعايې له د نېکۍ د دعوت پۀ ورکولو کښې مصروف شو۔

کله چې هغوئي د قبد نه ازاد شو او بهر يې تشريف راوړلو نو بادشاه چې وليدو نو ډېر حېران شو، پوښتنه يې اوکړه: جَرجِيسه! تۀ د قبد نه چا ازاد کړې؟ وه يې فرمائيل: هٰغه رَبِّ کريم ازاد کړم، د چا بادشاهي چې ستا د بادشاهۍ نه ډېره زياته مضبوطه ده۔

د دې نه پس هم هغوئي له ډېر تکليفونه ورکړے شول۔ پۀ کتابونو کښې ليکلے شوي دي چې هٰغه بد بخته بادشاه حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه 4 ځله شهيد کړو خو الله پاک هر ځل د هغوئي رُوح مبارک راواپس کړو او هغوئي يې بيا راژوندے کړو۔ (3)

---

1 ... تاريخ طبرى، ذكر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:383382 ملتقطاً۔

2 ... ذوق نعت، صفحه:18۔

3 ... تاريخ طبرى، ذكر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:383 و384 خلاصةً۔

غوئي راژوندے شو

اوس دا خبرونه پۀ ټول ښار کښې خوارۀ شوي وو، يوې غريبې زنانه چې کله د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه کرامتونه واورېدل نو د هغوئي پۀ خِدمت کښې حاضره شوه او عرض يې اوکړو: اے جَرجِيسه! زۀ يوه غريبه زنانه يم، زما صرف يو غوئے وو، د کوم پۀ ذريعه به چې ما ايوه کوله، زما غوئے مړ شوے دے، افسوس چې اوس زما سره د ګټې وټې (Source of Income) هيڅ ذريعه نۀ ده پاتې- مهرباني اوکړئ خپل رَبّ ته ووايئ چې زما غوئے راژوندے کړي-

دا يې چې واورېدل نو هغوئي پۀ ژړا شو، بيا يې د الله پاک نه سوال اوکړو او يوه اَمسا يې دم کړه او هغې زنانه له يې ورکړله، وه يې فرمائيل: پۀ دې اَمسا باندې خپل غوئے ووهه، د الله پاک پۀ حُکم سره به ستا غوئے راژوندے شي- نو هم داسې وشول، هغې زنانه چې خنګه پۀ اَمسا باندې خپل مړ غوئے ووهلو نو د الله پاک پۀ حُکم سره هغه سمدستي راژوندے شو-[1]

د مېز نه ونه جوړه شوه

د بادشاه يو لوئي وزير وو، هغه يوه ورځ حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته عرض اوکړو: اے جَرجِيسه! دا مخامخ وګورۀ! د لرګي نه جوړ کړے شوے غټ مېز دے، د دې د پاسه د لرګي نه جوړ کړے شوي لوښي پراته دي- د کوم رَبّ چې تۀ عبادت کوې، که چرې هغه واقعي ربښتونے رَبّ دے نو دُعا اوکړه چې دا مېز او لوښي بيا جرړې اوکړي او لکه خنګه چې مخکښې شنې ونې وې، هم هغسې بيا شي- دا يې چې واورېدل نو حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ ژړا ژړا د الله پاک پۀ دربار کښې سوال اوکړو، خنګه چې يې دُعا پوره شوه نو سمدستي پۀ مېز او لوښو کښې پانې راټوکېدل شروع شوې او پۀ لږ ساعت کښې يې

[1]... تاريخ طبرى، ذكر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:385 خلاصةً۔

جرړې اوکړې او بيا د زمکې سره پېوسته شوې او په لږ ساعت کښې هٰغه لوښي او مېز کوم چې مخې ته موجود پراتۀ وو، بيا ترېنه شنې ونې جوړې شوې او هغې ګلونه هم اوکړل۔[1]

افسوس چې د بادشاه زړۀ ډېر سخت وو، د دومره اعلیٰ او واضحه ځښنو په لیدلو هم د حق قبلولو د پاره تیار نۀ شو۔

وور پرې راوورېدو

تقریباً د 7 کالو پورې حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه داسې تکليفونه برداشت کول، هغوئې له يـې د نېکۍ دعوت ورکولو۔ د هغوئې د دې مسلسل کوششونو په برکت **34 زره کسانو اِيمان راوړلو**، په کومو کښې چې د بادشاه کور والا هم شامل وو۔ اخر بادشاه جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شهيد کړو۔ د کوم په وجه چې په بادشاه او د هغه په غېر مسلمه رعايا باندې د اسمان نه وور راوورېدو او دا ټول وسوزېدل ايره شول۔[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د واقعې نه مېلاؤېدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې څومره اِيمان تازه کوونکې واقعه ده۔ د دې نه مونږ ته د زدکړې د پاره ډېر څۀ مېلاؤېږي۔

نۀ منونکي تباه کېږي

يوه خبره خو دا معلومېږي چې کوم خلق د حق واضحه کېدو نه پس هم هغه نۀ مني نو هغوئې هم د نقصان سره مخ کېږي۔ ❁ تاسو وګورئ چې فرعون څومره د شان او شوکت

---

[1]...تاريخ طبری، ذکر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:385 خلاصةً۔

[2]...تاريخ طبری، ذکر خبر جرجيس، جلد:1، صفحه:388384 خلاصةً۔

والا بادشاه وو خو هغه حق قبول نۀ کړو نو پۀ دریاب کښې غرق کړے شو ❁ نمرود پۀ ټوله دُنیا باندې بادشاهي کوله، حق یې قبول نۀ کړو نو د یو ماشي پۀ وجه مړ کړے شو ❁ شَدَّاد حق خبره وا نۀ ورېدله نو د ذِلت پۀ مرګ مړ شو ❁ قوم عاد حق قبول نۀ کړو نو پۀ سخت طوفان سره تباه کړے شو ❁ قوم ثمود حق قبول نۀ کړو نو پۀ سخته زلزله فنا کړے شو- غرض چې څوک هم حق نۀ قبلوي نو هغه پۀ نقصان کښې وي- مونږ له پکار دي چې د حق خبرې د منلو، د نصیحت د منلو عادت جوړ کړو-

د ضد کولو مثالونه

افسوس چې نن سبا دلته هم ضد روان دے زیاتېږي ❁ څومره داسې خلق دي کوم چې حق خبرې اورېدو ته هډو تیارېږي نۀ، اوري یې خو منلو ته یې تیارېږي نۀ ❁ د نېکۍ د دعوت پۀ اورېدو حیلې بانې کوي ❁ د وړو وړو خبرو نه د خپلې اَنا مسئله جوړول عام دي ❁ ډېر خلق دي کوم چې نصیحت کول خپل سپکاوے ګڼي ❁ پۀ کورونو کښې چې وګورې نو د جینې والا، د هلک یا د هغه کور والا نۀ شي پوهه کولے ❁ د وړوکي خاندان والا د لوئي خاندان والا نۀ شي پوهه کولے ❁ عام اِنسان څوک لوئي نۀ شي پوهه کولے ❁ عوام څۀ د دُنیائي منصب والا نۀ شي پوهه کولے ❁ پۀ جوماتونو کښې څوک کم عمره عالِم یا دِیني مُبَلِّغ څوک زوړ بوډا نۀ شي پوهه کولے، خلق پۀ پوهه کولو غصه کېږي، د نېکۍ د دعوت نه د خپلې اَنَا مسئله جوړوي، خطره وي چې که زۀ ښه خبره اوکړم نو هسې نه چې مخامخ ګَس راسره جګړه اونکړي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! داسې عادت که چرته وي نو هغه ختمول پکار دي- حق خبره چې کله هم مونږ ته اوکړے شي نو سمدستي یې قبوله کړئ- پۀ عمل کښې کمزوري ښکله خبره ده، د حق خبرې پۀ اورېدو غصه کېدل، د هغې د قبلولو پۀ ځائے اُلټا پوهه کوونکي ته خبرې شروع کول، دا خراب عادت دے- نن سبا دا انداز هم روان دے عام

کېږي، کله چې څوک د نېکۍ دعوت ورکوي نو خلق د هغه پۀ ذات کښې عېبونه راویستل شروع کړي، مثلاً ❁ آؤ! آؤ! تۀ داسې حاجي راغلے یې---!! ❁ تۀ به اوس مونږ پوهه کوې ❁ ستا پۀ شان مې ډېر لیدلي دي ❁ ځینې بے باکه خو د دې پورې وائي چې مولانا---!! خپله لار ونیسه! مونږه پوهه شه او خدائے پوهه شه-

عنادحق څۀ ته وئیلے شي ---؟

یاد ساتئ چې د یوې دِیني خبرې د صحیح منلو باوجود پۀ خپله خبره باندې د کلک ودرېدلو او د ضد کولو پۀ وجه د هغې مخالفت کولو ته عِنَادِ حق (د حق سره دښمني) وئیلے شي ۔ [1] الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

اَلْقِیَا فِیْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِیْدٍۙ(۲۴) (پارہ:26، سورۂ قٓ:24)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: (حُکم به اوشي) تاسو دواړه هر لوئي نا شُکره سرکشه پۀ دوزخ کښې واچوئ-

یعنې د قیامت پۀ ورځ باندې چې به کله د حشر مېدان ته رسېږي نو فرښتو ته به حُکم کېږي: دا چې کوم نا شُکره ضدیان کافران دي، دوئي ټول دوزخ ته وغورځوئ---!! [2]

د 2 سترګو والا دوزخي څټ

د حضرت ابو هرېره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې حضور نبي کریم، رؤوف رحیم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: د قیامت پۀ ورځ به د دوزخ د وور نه یو څټ راویستلے شي، د هغې به دوه سترګې وي پۀ کومو چې به هغه لیدل کوي، دوه غوږونه به یې وي، پۀ کومو چې به هغه اورېدل کوي، یوه ژبه به یې هم وي، پۀ کومه به چې هغه

---

[1]...حدیقة الندیة، الخلق الثانی والخمسون...الخ، جلد:3، صفحه:459 خلاصةً۔

[2]...تفسیر بیضاوی مع حاشیه شیخ زاده، پارہ:26، سورۂ قٓ، زیرِ آیت:24، جلد:7، صفحه:675۔

خبرې کوي او هغه به وائي: زۀ دې خلقو له د عذاب ورکولو د پاره مسلط کړے شوې يم ❁ سرکشه او ضدي باندې ❁ څوک چې د الله پاک سره غېرُ الله شريک کړي - [1]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې دا څومره سخته سزا ده، کوم چې ضديان دي، هغوئ به د قيامت پۀ ورځ راښکلے کېږي او دوزخ ته به غورځولے کېږي، پۀ هغوئ باندې به د دوزخ وور مسلط کولے کېږي- مونږ له پکار دي چې پۀ خپله خبره د کلک ودرېدو او د ضد نه ډډه اوکړو، کله چې معلومه شي چې ❁ دا د دِين حُکم دے ❁ قرآنِ کريم مونږ ته دا حُکم کړے دے ❁ پۀ حديثِ پاک کښې دا حُکم راغلے دے ❁ شريعت دا فرمائيلي دي، بس بيا پۀ هغې باندې عمل کوئ، هغې ته سر ټيټ کړئ، ضد پرېږدئ-

د نېکۍ د دعوت ورکولو حِرص کوونکي جوړ شئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ پاک سيرت باندې نور غور اوکړئ چې پۀ هغوئ کښې د نېکۍ د دعوت ورکولو جذبه څومره ډېره وه---!!

سُبْحٰنَ الله! هغوئ چې کله بادشاه او د هغه رعايا پۀ شِرک کښې اخته وليدله نو--- ❁ سوداګر وو، تجارت يې پرېښودو ❁ مال يې ګټلو ❁ مصروفه وو ❁ بال بچ يې هم اُمېد دے چې وو به- ❁ خو هغوئ چې څنګه بادشاه د غلطې لارې مسافر وليدلو، د هغې نه پس يې بس د ژوند مقصد هم دا يو جوړ شو چې **ما ته دوئ له د نېکۍ دعوت ورکول دي او خامخا ورکول دي-**

افسوس چې مونږ د مصروفياتو نه نۀ وزګارېږو ❁ ګټل هم دي ❁ خوړل هم دي ❁ د ماشومانو روزنه پالنه هم کول دي ❁ د يو دُکان نه پس بل پرانستل هم دي ❁ سوشل مېډيا چلول هم دي ❁ د دوستانو سره کېناستل هم دي ❁ د چکرو وهلو د پاره هم تلل

---

[1]... ترمذی، کتاب صفة جهنم، باب ما جاء فی صفة النار، صفحه: 607، حدیث: 2573۔

دي، زمونږ سره د نېکۍ د دعوت ورکولو د پاره وخت چرته دے---؟ افسوس!

د نېکۍ د دعوت د پاره يو وخت اوباسئ!

کاش چې مونږ په دې خبره باندې ځان پوهه کړو چې د نېکۍ د دعوت د پاره وخت مېلاؤېږي نۀ بلکې مونږ له به وخت ويستل وي- وخت مېنج (Manage) کول وي- ❁ ګټل دي، ضرور يې ګټئ! ❁ خوراک څښاک کول دي، ضرور يې خورئ! ❁ د بال بچ روزنه پالنه کول دي، ضرور يې کوئ! خو دِين خو هم زمونږ دے کنه، د دې د خِدمت د پاره، د عِلم دِين د زده کولو د پاره، په سُنَّتو باندې د عمل کولو د پاره، په سُنَّتو باندې د نورو خلقو د روانولو د پاره، د جوماتونو ډکولو د پاره، "جوماتونه ډک کړئ"په دې تحريک کښې د برخې اخستو د پاره هم خو وخت ويستل دي ❁ که ډېر نۀ وي نو روزانه صرف دوه ګېنټې وخت اوباسئ! ❁ امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه، د قافلو په ترغيب کښې فرمائي چې:هر اسلامي ورور په ژوند کښې يو ځل 12مياشتې،په هر 12مياشتو کښې 30ورځې او ټول عمر هره مياشت3ورځې په قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ ❁ ټوله مياشت 27 ورځې خپل کارونه کوئ! هره مياشت صرف درې ورځې په قافله کښې د سفر کولو د پاره اوباسئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب کېږي-

د مُبَلِّغ مدد کولے شي

په 26 سيپاره، د سورۀ مُحَمَّد په آيت: 7 کښې الله پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَ يُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! که تاسو د الله د دِين مدد کوئ نو الله به ستاسو مدد کوي او تاسو ته به ثابِت قدمي درکوي-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې کوم اِنسان د الله پاک د دِين خِدمت کوي ❁ مثلا: عِلم دِين زده کوي ❁ نورو ته يې ښائي ❁ د نېکۍ دعوت عام کوي ❁ د دِين د خِدمت د پاره خپل کور کلے پرېږدي ❁ د خپلو بچو جدائي برداشت کوي ❁ د لرې پرتو علاقو سفر کوي او دِين خوروي ❁ پخپله هم نېکۍ کوي او د نورو هم د نېک نـمونځ ګزاره جوړولو کوشش کوي، الله پاک د داسې اِنسان مدد کوي، هغه ته په نېکو مقصدونو کښې کامیابي عطا کوي، که په هغه باندې سخته راشي، پرېشاني راشي نو د هغه مدد کولے شي او مفسرينِ کرامو د دې پورې ليکلي دي چې کوم اِنسان د دِين خِدمت کوي، الله پاک په دُنيا کښې هغه ته په اِسلام باندې اِستقامت عطا کوي او په اخرت کښې به هغه ته په پلِ صراط باندې ثابت قدمي عطا کوي- [1]

کرم سے نیکی کی دعوت کا خوب جذبہ دے
میں پُل صراط بلاخوف پار کرلوں گا

دُوں دُھوم سُنّتِ محبُوب کی مچایارَبّ!
ترے کرم کا سہارا جو مل گیا یارَبّ! [2]

د غېبي مدد موندلو نُسخه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې آيت باندې نور غور اوکړئ- الله پاک څه فرمائي:

اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ (پاره:26، سورۂ مُحَمَّد:7)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: که تاسو د الله د دِين مدد کوئ نو الله به ستاسو مدد کوي-

سُبْحٰنَ الله! د آيت مبارک دا حصه څومره د اُمېد نه ډکه ده- الله پاک دا وه نهٔ فرمائيل چې ستاسو مدد به په کومه معامله کښې کولے شي- مطلقاً يې وفرمائيل: تاسو د دِين خادمان جوړ شئ! الله پاک به ستاسو مدد اوکړي- بس چې څهٔ سخته هم وي، څهٔ پرېشاني هم وي

[1] ... تفسير خازن، پاره:26، مُحَمَّد، تحت الآية:7، جلد:4، صفحه:141۔
[2] ... وسائل بخشش، صفحه:77 ملتقطاً۔

بے روزګاري ده پرېشاني ده تنګدستيا ده بيماري ده مور جانه بيماره ده يا بابا جان پۀ اسپتال کښې دے د قبر او د اخرت د معاملاتو وېره ده يا د جَنَّت طلب دے- غرض چې کوم جائز خواهش هم وي، که هر مشکل وي، د دِين خادِم جوړ شئ! الله پاک به غېبي مدد اوکړي-

پۀ کلونو زوړ مرض يې ټيک شو

د کراچي (سندھ، پاکستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے، وائي: زۀ تقريباً د 19 کالو نه د ساه د مرض ښکار ووم- زۀ ډېر پرېشانه ووم- څو ځله خو مې تکليف ډېر زيات شو- هر وخت به هم پۀ دې فِکر کښې ووم چې زما به ارام څنګه نصيب کېږي- اخر يو ځل د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول سره د قافلې مسافر جوړ شوم- د قافلې پۀ برکت زما ډېر عِلم دِين زده کول نصيب شو، د دې سره سره دا برکت هم مېلاؤ شو چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما د 19 کالو زوړ مرض کښې ډېر ښۀ والے راغلے- [1]

گرچہ بیماریاں، ہوں کہیں پتھریاں
دُور ہوں گے اَلَم ہو گا ربّ کا کرم
ماں جو بیمار ہو، یا وہ ناچار ہو
پاؤ گے صحّتیں، قافِلے میں چلو!
غم کے مارے سُنیں، قافلے میں چلو!
رنج و غم مَت کریں، قافِلے میں چلو![2]

د نېکۍ د دعوت پۀ فضيلتونو باندې 2 حديثونه

(1)په حديث پاک کښې دې چې:يو کس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس وکړو:چې بهترين بنده څوک دے؟وېې فرمائيل:د الله پاک نه ويريدونکے،صله رحمي(يعني د رشته دارو سره ښۀ سلوک) کوونکے،د نېکۍ دعوت

[1]...مفلوج کی شفایابی کا راز، صفحہ:1211 ملخصاً۔
[2]...مفلوج کی شفایابی کا راز، صفحہ:1211 ملخصاً۔

ورکوونکے او د بدۍ نه منع کوونکے. [1]

(2) رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُبَلِّغينو ته دُعا کړې ده او فرمائيلي يـې دي: الله پاک دې هغه تر او تازه ساتي څوک چې زما حديث واوري، ياد يـې وساتي او نورو ته يـې ورسوي. [2]

هر مسلمان مُبَلِّغ دے

افسوس چې دلته د نېکۍ د دعوت پۀ کار کښې ډيره سستي موندلے کېږي بلکې ډېر خلق خو دا د علمائے کرامو، د جوماتونو د اِمامانو وغېره ذِمه واري ګڼي- يعنې دا ذِهن جوړ شوے دے چې د نېکۍ دعوت ورکول خو د اِمام صاحب کار دے، د ګناه نه منع کول خو د مُلا صاحب کار دے- زمونږ خو دا کار نۀ دے- مَعَاذَ اللّٰه!

ياد ساتئ چې د نېکۍ دعوت ورکول د هر مسلمان ذِمه واري ده- پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:110)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو بهترين اُمت يئ کوم چې د خلقو (د هدايت) د پاره ښکاره کړے شوے، تاسو د نېکۍ حُکم ورکوئ او د بدۍ نه منع کوئ او پۀ الله ايمان لرئ-

معلومه شوه چې د دې اُمت خصوصي شان دا دے چې دا د نېکۍ دعوت عام کولو والا اُمت دے- ځکه چې کوم مسلمان هم دے، څوک چې هم د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتي دے، هغه مُبَلِّغ دے- ټولو ته د نېکۍ دعوت عام کول دي-

---

[1]...شُعب الايمان، باب فی صلة الارحام، جلد:6، صفحه:220، حديث:7950۔

[2]...ترمذی، ابواب العلم، باب ما جاء فی الحث علی تبليغ السماع، صفحه:626، حديث:2656۔

د نېکۍ دعوت او زمونږه ناراستي

افسوس چې اوس زمونږه حال ډېر خراب دے- د نېکۍ دعوت ورکول دي، د ګناه نۀ منع کول دي، عام طور زمونږ دې طرف ته توجه نۀ وي ❁ کور والا نـمونځ نۀ کوي، که مونږ ورته ووايو نو وه به يـې مني، بيا ورته هم نۀ وايو ❁ ځوي مو بالغ شوے دے، د سحر د نـمانځه پۀ وخت اودۀ وي، که راپاڅوو يـې نو راپاڅيدل به شروع کړي خو مونږ يـې نۀ راپاڅوو ❁ د کور زنانه پرده نۀ کوي، مونږ ورته وايو هم نۀ ❁ د نائي پۀ دکان کښې ناست يو، د خپل نمبر انتظار کوو، هلته سندرې هم غږېږي، نۀ هغه منع کوو او نۀ ترېنه پاڅو ❁ پۀ بس کښې سندرې غږېږي، مونږه د ډرائيور د پوهه کولو کوشش هم نۀ کوو ❁ بعضې وخت خو مو خپل ګاډے نيولے وي، پۀ داسې حالت کښې خو ډرائيور زمونږ پابند شو، که مونږ ورته ووايو نو وه به يـې مني، د دې باوجود هغه د سندرو غږولو نه نۀ منع کوو- نور څومره داسې حالتونه دي- پۀ ورځ کښې کېدے شي چې ډېر ځل مونږ ته د نېکۍ د دعوت ورکولو او د ګناهونو نه د منع کولو موقعې مېلاؤېږي خو مونږ يـې نۀ کوو- ذِهن مو نۀ دے جوړ- سوچ مو نشته، دې طرف ته مو هډو توجه نۀ وي-

اوس ووايئ! ❁ چې مونږه د نېکۍ دعوت نۀ ورکوو نو جوماتونه به څنګه ابادېږي؟ ❁ پۀ کورونو کښې به امن څنګه راځي؟ ❁ د معاشرې نه به سُود څنګه ختمېږي؟ ❁ د دوکې کولو ❁ دروغو، غيبت، چغلۍ، وعده خلافۍ ❁ پۀ ناپ تول کښې د کمي ❁ بے حيايۍ، بے شرمۍ وغيره د دې ټولو ګناهونو نه به معاشره څنګه صفا کېږي؟

ښه---!! پۀ دې کښې زمونږه خپل نقصان هم دے- د دروغو نه خو مونږه هم نۀ منع کېږو، نتيجةً هر دوېم درېم ګس دروغ وائي، دوکه ورکوي او دې هر څۀ سره مونږ پخپله هم مخ کېږو- کله چې مونږ د مِلاوټ او دو نمبرۍ نه هم نۀ منع کوو نو پۀ معاشره کښې مِلاوټ عام کېږي- نتيجه څۀ ده؟ مونږ ته هم خالِص څيزونه نۀ مېلاؤېږي- نقصان د چا شو؟ زما

هم، د معاشرې هم او زمونږه د راتلونکي نسلونو هم- د ټولو نقصان دے- مونږ ټول پۀ شریکه که ټول مسلمانان د نېکۍ دعوت ورکول شروع کړو، د ګناهونو نه منع کول شروع کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰه الْکَرِیم! پۀ کلونو او میاشتو کښې نۀ بلکې پۀ ورځو کښې به پۀ معاشره کښې بدلون راشي- کاش چې زمونږ دې طرف ته توجه شي-

د نېکۍ د دعوت نۀ ورکولو نقصانونه

د نېکۍ د دعوت نۀ ورکولو څۀ وبال دے؟ واورئ! ❁ زمونږه او ستاسو آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہُعَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: قَسم دے پۀ هٰغه ذات باندې د چا پۀ لاس کښې چې زما ځان دے! یا خو به تاسو د ښې خبرې حُکم کوئ او د بدې خبرې نه به منع کوئ یا به الله پاک پۀ تاسو باندې زر خپل عذاب راولېږي بیا به دُعا کوئ او ستاسو دُعا به نۀ قبلېږي- [1]

❁ محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُعَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: الله پاک حضرت جبرائیل (عَلَیْہِ السَّلَام) ته حُکم وفرمائیلو چې فلانکے ښار د هغې د اوسېدونکو سره تباه کړه، حضرت جبرائیل (عَلَیْہِ السَّلَام) عرض اوکړو: اے رَبَّه! پۀ هٰغه خلقو کښې ستا یو فلانکے نېک بنده هم دے کوم چې د سترګو د رَپ برابر هم ستا نافرماني نۀ ده کړې- الله پاک وفرمائیل: اَقْلِبْهَا عَلَیْهِمْ فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ یَتَمَعَّرْ فِیَّ سَاعَةً قَطُّ یعني ښار پۀ هغوئ باندې هم اُلټا کړه ځکه چې د هغه مخ زما پۀ نافرمانو لیدلو (د ایمان د غېرت پۀ وجه) کله هم نۀ دے بدل شوے- [2]

سُنّتوں کی کروں خوب خدمت
نیک میں بھی بنوں اِلتجا ہے

ہر کسی کو دوں نیکی کی دعوت
یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے [3]

---

[1] ...ترمذی، کتاب الفتن، باب ماجاء فی الامر ...الخ، صفحه:523، حدیث:2169۔
[2] ...شعب الایمان، باب فی الامر...الخ، جلد:6، صفحه:97، حدیث:7595۔
[3] ...وسائلِ بخشش، صفحه:139۔

د نېکۍ د دعوت يو اهم مقصد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته د خلقو دا ذِهن وي چې؛

جو مانتا نہیں، اُسے کہنا فضول ہے

دا غلطه خبره ده، وګورئ چې حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د 7 کالو پورې مسلسل د نېکۍ دعوت ورکولو- ❁ هغوئ ورته حق خبره کوي، بادشاه يې د اوسپنې پۀ ګمنځو وجود سيري، هغوئ بيا هم د نېکۍ دعوت ورکوي ❁ بادشاه بد نصيبه يې د اوسپنې مېخونه پۀ سر وهي، هغوئ بيا هم د نېکۍ دعوت ورکوي ❁ بادشاه يې پۀ ښپو، لاسونو باندې مېخونه وهي او پۀ جبل کښې يې قېد کوي، هغوئ بيا هم د نېکۍ دعوت ورکوي ❁ بادشاه پۀ هيڅ قِسمه طريقه منلو ته هډو تيارېږي نۀ، د دې باوجود هم حضرت جَرجِيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د نېکۍ د دعوت عمل نۀ ودروي- معلومه شوه که څوک يې مني او که نۀ مني، مونږ له د نېکۍ دعوت ورکول پکار دي- د سوچ خبره ده چې اِنسان پۀ ګناه باندې دومره کلک ولاړ دے چې که هغه ډېر هم پوهه کړي نو ګناه پرېښودو ته تيار نۀ دے نو مونږ **د نېکۍ د دعوت** والا پۀ جنتي عمل کښې دومره کچه ولي شو- مونږ له هم پکار دي چې بس د نېکۍ دعوت ورکوو، ورکوو، مسلسل د نېکۍ دعوت ورکوو-

نۀ منونکي هم پوهه کوئ

پۀ قرآنِ کريم کښې دي: هغه خلق کومو چې به ډېرو ضديانو او کلک ودرېدونکو خلقو له هم د نېکۍ دعوت ورکولو، هغوئ ته ووئيلے شو:

لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ (پارہ:9، سورۂ اَعْرَاف:164)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: تاسو هغه خلقو ته ولې نصيحت کوئ؟ کومو لره چې الله هلاک کوونکے دے يا هغوئ لره سخت عذاب ورکوونکے دے؟

يعني دا ضديان خلق کومو چې خبره هډو منلې نۀ ده، نېغې لاړې ته هډو راځي نۀ، پۀ هغوئ باندې به خامخاعذاب نازلېږي، داسې ضدي قام ولې پوهه کوئ؟ پۀ هغوئ باندې خپل وخت ولې بربادوئ؟ مُبَلِّغينو جواب ورکړو:

مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ (پارہ:9، سورۂ اَعْرَاف:164)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: ستاسو د رَبّ پۀ بارګاه کښې د عُذر وړاندې کولو د پاره-

يعني که دوئ يې مني او که نۀ مني، زمونږه کار دے د نېکۍ دعوت ورکول، که چرې وه يې مني نو د هغوي خير دے پکښې او که نۀ يې مني نو مونږ به کم از کم د خپل رَبّ پۀ حُضُور کښې دا عُذر خو پېش کړے شو چې مولىٰ! مونږه پوهه کړې وو-

دا هم د نېکۍ د دعوت ورکولو يو مقصد وي چې مونږ د نېکۍ دعوت ورکړو، مونږه پوهه کړو، زمونږه فرض پوره شو، اوس هغه ګس پوهه شه او د هغه کار- ځکه هغه خلق کومو ته چې د نېکۍ کار زړۀ وهي ، مثلاً پرېږده مړه! چې څوک يې مني نۀ نو څۀ فائده! د خپل وخت خرچ څۀ فائده- داسې خلقو له پکار دي چې د دې ځائے نه عبرت حاصل کړي، د نېکۍ کار چرې هم مۀ ودروئ- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د نېکۍ د دعوت معمول به څنګه جوړوو؟

د نېکۍ د ثواب ګټلو او د دې د معمول جوړولو د پاره ❁ د دَرس ورکولو عادت جوړ کړئ! د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتابونه او رسالې د مکتبة المدينه نه مېلاوۀږي، د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ نه پۀ موبائل کښې ډاؤنلوډ (Download) کېدے هم

شي- دا حاصلي کړئ، په کور کښې دَرس ورکوئ- په نزدې جومات کښې دَرس ورکوئ او چرته چې کار کوئ، دُکان دے، دفتر دے، کارخانه ده، چرته چې هم تاسو يئ نو هم هلته خپل ګېر چاپېره دوستان راجمع کوئ او د دَرس ورکولو عادت جوړ کړئ! ❁ هم دغه شان د هر نـمونځ په وخت پخپله هم د جَمعې ودرېدو نه مخکښې جومات ته ځان رسوئ او نورو له هم دعوت ورکوئ او د هغوئ هم د ځان سره د بوتللو کوشش کوئ! ❁ په قافلو کښې سفر کوئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! ډېرې فائدې به مو نصيب شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلو په برکت سره به ❁ ډېر وخت په جومات کښې تېرېدل نصيب کېږي ❁ نـمونځونه د جَمعې سره کول اسانېږي ❁ د نفلونو کولو موقع مېلاؤېږي ❁ د عِلمِ دِين زده کول او نورو ته ښودل نصيب کېږي ❁ اخلاق ښه کېږي ❁ کردار ښه کېږي ❁ زړۀ صفا کېږي ❁ باطِني بيمارۍ لرې کېږي ❁ د نېکو کولو جذبه او د ګناهونو نه نفرت هم نصيب کېږي او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلې په برکت سره د نېکۍ د دعوت د ورکولو او د ګناه نه د منع کولو ښه مشق هم کېږي- ځکه کم از کم هره مياشت د درېو ورځو په قافله کښې د سفر کولو معمول جوړ کړئ! عام طور د فېضانِ مدينه نه د هرې جُمعې په ورځ قافلې سفر کوي، جدول جوړ کړئ او هره مياشت په قافله کښې سفر کوئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! ډېرې دِيني او دنيائي فائدې به مو نصيب شي- راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے عرض کړم-

د باغ ځانګو

د حېدر آباد په يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کېدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو- په بيان کښې په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغه په مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکلو- د قافلې په روانېدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هٰغه ځلمے وفات شو- په کور والو کښې يو ګس هغه په خوب کښې په دې حالت کښې وليدو چې هغه په يو شين باغ کښې ډېر خوشحاله دے او په

ځانګو کښې ځانګې- خوب لیدونکي ترېنه پوښتنه اوکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے یم، الله پاک ډېر ګرم فرمائیلے دے، زما مور ته ووایه چې زما غم نۀ کوي، زۀ دلته ډېر پۀ سکون کښې یم-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو
سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

د قافلې میاشت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د 15 نومبر پورې د قافلې میاشت روانه ده- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ډېر اِسلامي وروڼه د قافلو مسافر جوړ شوي دي، ځینو به نیت کړے وي- تاسو هم همت اوکړئ، چا چې د اوسه پورې پۀ قافله کښې سفر نۀ وي کړے هغوئي دې زر تر زره د دارالسنه سره رابطه اوکړي، د خپل ځائے ذمه دار ته دې خپل نوم پېش کړي او د 15 نومبر پورې دې پۀ قافله کښې لازمي سفر اوکړي-

د قافلو متعلق د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ 5 فرامین (1) زۀ د قافلو والا یم زما د قافلو سره محبت دے، (2) پۀ قافلو کښې د دین درد او غم نصیب کیږي. (4) قافله پۀ ټوله دنیا کښې د نیکۍ د دعوت عام کولو ذریعه ده. (5) مونږ د ګناهونو مریضان یو او دوائي ترخه وي،لهذا قافله د نفس دپاره ګرانه ده دې وجې نه قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ.[1]

الله پاک دې مونږ ته د نېک کار کولو او نورو له د نېکۍ د دعوت ورکولو او د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نورو د بچ کولو توفیق را عطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...12 دینی کام (مجلد)، صفحه:541539 ملتقطاً۔

المَدينه آن لائن لائبريري

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي I.T ډيپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د عِلمِ دين زده کولو اسانو ذريعو راکولو کښې مَصرُوف دے- د سوؤنو کتابونو او رِسالو المدينه آن لائن لائبريري کومه چې مخکښې صرف په ډيسک ټاپ ورژن (Desktop version) کښې وه، اوس وېب ورژن کښې لائيو (نېغ په نېغه) کړے شوې ده- په المدينه آن لائن لائبريري کښې د مکتبة المدينه مختلف موضوعات (مثلاً قرآن او سُنّت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوىٰ، اسلامي تعليمات، اخلاق او آداب، سيرتِ رسولِ عربي، سيرتِ اُمهاتُ المُؤمنين، سِيرتِ صحابه و صحابيات، سيرتِ اولیائے کرام، سيرتِ اميرِ اهلسُنت، ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنت او فيضانِ مدني مذاکره، اوراد او وَظائف او نعتيه کلامونه وغيره) باندې مشتمل کتابونه او رِسالې موجودې دي- د المدينه آن لائن لائبريري نه د فائدې اخستلو د پاره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ

www.dawateislami.net/bookslibrary

وزټ وکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❁ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس تقريباً 8:00 بجې اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، په کومه کښې چې به شېخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په

دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شېخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **وړومبے يې تلئ بيا خبره کوئ (د خبرو کولو آداب قسط: 9)** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل مېډيا مثلاً واټس اېپ وغېره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر **(Share)** کړي! ❁ مکتبة المدينه د 7 کالو پۀ وړوکې شان عمر کښې د قران حفظ کوونکې او 20 کاله عمر کښې ټول علوم حاصلوونکې او د نورو ډېرو خصوصياتو لرونکې عالم احمد کبير رفاعي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ سيرت طيبه باندې ليکلےشوې دوه رسالې "**فيضان سيداحمد کبير رفاعي** رَحْمَةُاللهِعَلَيْه او **شان رفاعي** شائع کړې دي پۀ کومو کښې چې حضرت امام احمد کبير رفاعي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سيرت بيا شوے دے.رساله **فيضان سيداحمد کبير رفاعي** پۀ 12 روپے او **شان رفاعي** پۀ 15 روپے د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ ښه حاصلې کړئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

حِلم (د برداشت قوت) سُنَّتِ مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1): حلم والا پۂ دُنيا کښې هم سردار دے، پۂ اخرت کښې هم سردار دے۔ [1] **(2):** د حِلم پۂ ذريعه بنده پۂ ورځ کښې د روژه نيونکي او د شپې د قيام (يعنې عبادت) کوونکي درجه مومي۔ [2]

اے د خوبرو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حِلم د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت دے۔ ❁ [3] زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم بے ځايه غصه نۂ ده کړې۔ ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل ذات پۂ باره کښې د چا نه هم انتقام نۂ اخستو۔ ❁ پۂ مخکښينو اسماني کتابونو کښې د هغوئ دا صفت هم بيان شوے: د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چې څومره هم د جهالت والا سلوک اوکړے شي، هُم هٰغه همره به د هغوئ حِلم زياتېدو۔ [4]

د حِلم پۂ باره کښې مَدَني ګلونه: ❁ حِلم د الله پاک صفت دے۔ ❁ حِلم د الله پاک خوښ صفت دے ❁ حِلم د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دے ❁ د حِلم معنىٰ ده: **پۂ قلار والے، بُرد باري (نرم مزاجي)۔**

اِمام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: تحمل (يعنې بردباري) د غصې څښلو نه افضل دے ولې چې د غصې څښلو ضرورت هغه چا ته وي، د چا غصه چې سخته شي، او د حِلم والا پۂ غصه کښې هډو جوش راځي نۂ۔ [5] ❁ د حِلم سره بزرګي مېلاؤ ېږي۔

د حليم جوړيدو طريقې: ❁ حِلم د تکلف سره راځي (يعنې بنده چې پۂ کوشش سره، پۂ

---

[1] ...جامع صغير، صفحه:233، حديث:3831۔
[2] ...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتابُ الْاَدَب، باب حُسنِ اَخْلاق کے بيان ميں، جلد:8، صفحه:19، حديث:12687۔
[3] ...تفسير صراط الجنان، پاره:3، سورۂ بَقَره، زيرِ آيت:263، جلد:1، صفحه:398۔
[4] ...صِراط الجنان، پاره:4، سورۂ ال عمران، زيرِ آيت:159، جلد:2، صفحه:81۔
[5] ...اِحْيَاء العلوم مترجم، جلد:3، صفحه:535۔

تکلف کولو غصه څښي نو په ورو ورو به يې په طبيعت کښې حِلم پيدا شي) ❁ د عمامې په سر کولو سره حِلم زياتيږي ـ[1] ❁ په قافلو کښې د سفر کولو سره حلم زياتيږي - د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]...معجم كبير، جلد:1، صفحه:145، حديث:518۔